مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

عبدالباري جهاني ۲۰۲۰/۱۰/۰۹

# خراسان او خراسانیان

موږ افغانان یو او افغان د قوم په صفت ځانته خپل تعریف لري. موږ د افغانستان اتباع او اوسېدونکي یو او افغانستان، د یوه هیواد په حیث، مشخص جعرافیایی حدود، چي د یوه هیواد لومړنی معرف دی، درلودلي او لري یې. خراسان یوه ډېره پخوانی جغرافیایی او تاریخي پدیده ده چي هیڅ وخت یې مشخص حدود نه وه معلوم. کله له سند څخه نیولې، تر ماوراءالنهر، د کسپین تر بحیرې، تر نیشاپور او مشهد پوري سیمي پکښي شاملي او کله غزني او کابل، حتی هرات هم پکښي شامل نه دی.

کله چي د غزنوي سلطان مسعود د سلطنت په وروستیو کلونو کي، ترکمنانو نه یوازي د مالیاتو له ورکولو څخه ډډه وکړه بلکه د غزنویانو د سلطنت قلمرو یې تهدید کړ نو سلطان مسعود په واضح ډول وویل: اینک ما حرکت میکنیم، با پنجاه هزار سوار و پیاده و سه صد پیل و بهیچ حال نیز بغزنین بازنگردیم، تا آنگاه که خراسان صافي کرده آید. (تاریخ بیهقي ص ص ۶۷۴-۷۵)

په ورپسې مخ کي لیکي: ... و امیر مدتي شراب نخورده بود و پس از نماز و قربان، امیر برخاست و برخوان نشست و ارکان دولت و اولیا و حشم را فرود آوردند و بخوانها بنشاندند و شاعران شعرخواندند... و شراب روان شد و مستان باز گشتند... و پس ازین، بیک هفته، پیوسته شراب خورد و بیشتر با ندیمان و مطربان را پنجاه هزار درم فرمود و گفت. « کار بسازید، که بخواهیم رفت و در خراسان بخواهد بود شراب خوردن، تا خصمان خواب نبینند. (هغه کتاب ص ۴۷۶)

و روز سه شنبه حاجب سباشی را خلعت دادند سخت فاخر و چند تن از مقدمان که با وی از خراسان آمده بودند و دیگر روز امیر بنشست و... (هغه مخ)

سلطان مسعود دا تولي مستی په غزني کي کوي او وروسته پر خراسان باندي د لښکرکښی او د ترکمنانو د پرلار کولو لپاره روانیږي. د دې معنا دا ده چي غزني په خراسان کي نه دی. د دې معنا دا ده چي کابل، قندهار او حتی هرات، چي هر وخت د خراسان مرکز بلل سوی دی، په خراسان کي شامل نه دی. ځکه چي دا ټول ښارونه امیر ته منظم مالیات ورکوي او د امیر حاکمان پکښي ناست دي. امیر د خراسان له پلوه په تکلیف دی او غواړي د خراسان د لاندي کولو لپاره پوځونه روان کړي. له دې متن څخه، په څرګنده، ښکاري چي خراسان د اوسني افغانستان له حدودو څخه بهر کوم بل ځای دی. او که اوس هم ځوک ځانونه خراسانیان بولي نو باید چي له افغانستان څخه بهر کوم بل ځای ته ولاړ سي. په دې باره کي ځکه زیات تفصیل نه ورکوم چي د همدغه افغان جرمن په سایټ کي مي په ۲۴۰ شماره نسبتا مفصل مضمون لیکلی او مستند مثالونه مي ورکړي دي. که لوستونکي علاقه لري، په آرشیف کي یې، زما تر نامه لاندي کتلای سي. (۱)

اوس به راسو د افغانستان مسلې ته: د افغانستان د نامه په برخه کي د مرحوم محمدصدیق فرهنګ او نورو مورخینو اظهارات د تاریخ له شاګردانو او د افغانستان د تاریخ له علاقه مندانو سره شکونه پیدا کوي. مرحوم فرهنګ د خپل تاریخ د لومړي ټوک په څلېرویشتم مخ کي د افغانستان او خراسان پر مسله باندي د بحث په ترڅ کي لیکي: «دراینجا باید گفت که هر چند کلمه افغانستان به عنوان نام رسمي کشور بار اول در سال ۱۸۰۱ در معاهده بین انگلستان و ایران درباره دولت درانی به کار رفته است، اما کلمه افغان به مثابه نام یک قوم و کتله نژادي و فرهنګي و افغانستان به عنوان محل سکونت آن در تاریخ خراسان سابقه دراز مدت دارد.»

دا چي د کوم هیواد نوم په رسمیاتو کي یاد سوی نه وي د دې معنا دا نه ده چي د هغه هیواد رسمي نوم وجود نه درلود؛ او د همدغي معاهدې سره یو ناڅاپه میدان ته را ووت. کنه نو د ایران او برتانوي هند د ۱۸۰۰ کال په معاهده کي څرنګه دا عبارت راتللای سي چي که د افغانستان پاچا پر هند باندي د حملې خیال درلود او یا د افغانستان پاچا

---

۱ ـ شاهنامه او تاریخي افسانې



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاریٔ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنېزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

پر ایران باندي د حملي خیال درلود. کوم افغانستان؟ د دې معنا پخپله دا ده چې د افغانستان په نوم یوه ټاکلي هیواد وجود درلود او ځانته یې پاچا درلود.

زه یقین لرم چې مرحوم فرهنگ به د جورج فورسټر George Forster سفرنامه نه وه لوستي او یا به یې په لوی لاس سترګي ورباندي پټي کړي وي. جورج فورسټر ښايي لومړنی اروپايي وي چې افغانستان ته یې سفر کړی او په خپله سفرنامه کي یې څوڅو ځله د افغانستان نوم یاد کړی دی.

جورج فورسټر یو جرمنی سیاح، لیکوال، طبیعت پېژندونکی، قوم پېژندونکی او یو انقلابي وو چې په ۱۷۹۴ کال کي، د ۳۹ کالو په عمر، په فرانسه کي وفات سو. جورج فورسټر په ۱۷۸۳ کال کي، یعني د تیمورشاه د پاچهی په لسم کال، په کابل ، کندهار او هرات کي ګرځېدلی او د ایران له لاري اروپا ته ستون سوی دی. خپل یاداشتونه یې بشپړ کړي او په اروپا کي یې خپاره کړي دي.

A Journey from Bengal to England Through the Northern Part of India, Kashmir, Afghanistan, and Persia, by the Caspian Sea 1782-1784

د دوهم ټوک په ۸۲ او ۸۳ مخونو کي لیکي: «احمدشاه، د ډیري مودي لپاره، له کړاوه ډک پوځي ژوند تېر کړ او د یوه اعتدال خوښونکي او عادل واکمن شهرت یې تر لاسه کړ. په ۱۷۷۳ کال کي د کندهار د نوي ښار، چې ده د افغانستان د پایتخت په حیث جوړ کړی وو، په ګاونډ کي وفات سو. له ده څخه وروسته یې زوی تیمور واکمن سو او خپل دربار یې کابل ته نقل کړ څو هغه سیمي وساتي چې د ده پلار له افغانستان څخه بهر لاندي کړي وې. ...

«تیمور، له افغانستان او په هند کي تر لاس لاندي سیمو څخه پرته، د خراسان یوه لویه برخه هم په لاس کي لري، چې له هرات څخه نیولې په شمال کي تر نیشاپور او ترشیز او په جنوب کي تر کمکي عراق پوري رسیږي. دغه واکمن، چې ما لیدلی دی، د شیرڅلوېښتو کلونو په شاوخوا کي معلومیږي. میانه قده او نسبتاً چاغ سړی دی او چې د افغانستان له ځایی اوسېدونکو سره مقایسه سي نو پوست یې یو څه تاریک دی. د تشریفاتو په وخت کي، د خپل امپراطوري جلال د ښکاره کولو لپاره، یوه جګه د تور بخمل خولی، چې لوړه برخه یې څلور کونجه ده، پر سر کوي. ...

سپاره عسکر د افغانستان اصلي پوځي قوت دی. هم د خپلو سیمو او هم له ترکستان او ایران څخه، په مناسبو بیو، آسونه تر لاسه کوي.» (هغه کتاب ۸۵ مخ)

فورسټر په ډیرو لږو ورځو کي د افغانستان د تاریخ، د مالي وضع، د لویو او وړو ښارونو د خلکو او د غیر مسلمانانو سره د هغوی د سلوک په باره کي، په ډېر لنډ وخت کي، داسي دقیق اطلاعات راغونډ کړي دي چې سړی حیران ورته پاتیږي. دی د تیمورشاه او د هغه د ورونو په باره کي لیکي چې د هغه ځینو ورونو کله ناکله ناکراری منځته راوړي دي یو له هغوی څخه سکندر نومېدی چې ښورښ یې وکړ مګر په ډېره اساني یې کرار کړ. دی وایي چې په کابل کي چې څه ارمنیان اوسیږي له احمدشاه سره راغلي دي. هغوی په خپلو کي ودونه سره کوي او په آزاده توګه خپل د عیسوي مذهب مراسم ترسره کوي او یو مذهبي مشر لري. (ص ۸۶)

فورسټر د افغانانو د هیواد د وسعت په باره کي لیکي چې افغانان د دې سیمي اصلي اوسېدونکي دي او قلمرو یې د مرکزي اسیا له غرونو څخه تر ایرانه او له اباسین څخه تر ایران پوري رسیږي. د دغي پراخي سیمي اوسېدونکي د خپلي ژبي د لیکلو لپاره توري نه لري ( په دغه برخه کي د فورسټر اطلاعات نیمګړي دي. پښتو ژبي له ډېره وخته خپل رسم الخط درلودلی وو. جهاني ) او په خپله خاصه ژبه خبري کوي. ... که څه هم چې د اسیا په باره کي زموږ په ځینو تاریخونو کي د افغانستان اوسېدونکي تاتار بلل سوي دي مګر زه په زغرده ویلای سم چې دوی نه له تاتارانو سره مشابه دي او نه یې عادتونه او ژبه هغوی ته ورته ده. (ص ۷۴)

فورسټر لیکي چې که د افغانستان حکومت د اسیا له نورو هیوادونو سره مقایسه کړو نو دلته چنداني بې عدالتي او ظلم نه لیده کیږي. د فرمانونو په عملي کولو کي ویني نه تویوي او له بهرنیانو سره دښمني نه لري. په کابل کي داخلي او خارجي سوداګر ټول خوندي دي او خپل حقوق په داسي روحیه ساتي چې په نورو اسلامي هیوادونو کي چنداني نه لیده کیږي. د اعدام سزا چنداني نه ورکوله کیږي. که څه هم چې د اوسني واکمن خپلوانو څو ځله هغه ته دسیسي کړي دي مګر ده د خپلي کورنی د غړو په وینو لاسونه نه دي سره کړي. دی وایي دا هغه څه دي چې ما په کابل کي د اوسېدلو په شپو ورځو کي له تیمورشاه څخه ولیدل. (ص ۸۸)

فورسټر د غزني او قلات له لاري کندهار ته رسېدلی دی. دی وایی ما غوښتل چې یو څو شپې نور هم پاته سم خو که پاته سوی وای نو بیا مجبور وم چې د بلي قافلي تر روانېدلو پوري ټول ژمی په هغه ښار کي پاته سم. فورسټر وایي په کندهار کي د هندوانو ډېري زیاتي کورنی ژوند کوي چې زیاتره یې د ملتان او راجپوت له علاقو څخه دي. دوی په تجارت او صنعت کي ښه پوهه لري او د دوی له برکته د ښار شته مني هم زیاته سوې ده. دې ښار ته له بخارا او سمرقند څخه هم ترکمن سوداګر راځي. دوی له دې ښار څخه ډېر زیات نیل وړي چې کندهار ته د هند له ښارونو څخه واردیږي. فورسټر وایي تر ټولو هغو ښارونوچې ما د اباسین پر لوېدیځه غاړه لیدلي دي، په دغه ښار کي مواد ارزانه دي. انګور او خټکي یې ډېر ډولونه لري او دونه مزه دار دي چې له اروپا سره مقایسه کېدلای سي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

کله چې سړی د هندوانو دوکانونو ته ګوري چې د ښار ډېره زیاته برخه یې نیولې ده نو سړی قضاوت کولای سي چې دوی په کندهار کې ښه آزادي لري او ښه ساتل کيږي. (ص ۱۰۳)
فورسټر وروسته ليکي چې بازارونه يوازې د ايران او افغانستان په لويو ښارونو کې ليده کيږي او مسافر مجبور وي چې د اړتيا وړ مواد د کاروانسرايونو له ښبتنانو څخه ترلاسه کړي. ...
فورسټر د افغانستان د خلکو د زحمت کښی او سخت سری صفت کوي او وايي کله چې زه د ايران او افغانستان خلک سره مقايسه کوم نو زه په دې فکر کې کېږم چې انسان، پرته له دې چې غوښې وخوري، ډېرو سختو کارونو ته اوږه ورکولای سي. د افغانانو خوراک وچه ډوډۍ، کُرت او اوبه دي. په داسي موسمي حالاتو کې ژوند کوي چې ګرمي يې هم تر اندازې وتلې او ساړه يې هم. دوی د لندن تر يوه پلندې د کار او سټرتيا زيات قوت لري. په داسي حال کې چې د لندن پلندې د ماهي په غوښو او غوړيو موړ وي او د يوه افغان په څېر د ژوند او موسم له سختو حالاتو سره مخامخ نه وي. (ص ص ۱۴۲-۴۳)
په دې توګه فورسټر څو څو ځله د افغانستان او خراسان نومونه يادوي؛ او د دې معنا دا ده چې هغه بايد د افغانستان نوم، په هندوستان کې د اوسېدلو په وخت کې، اورېدلی او ورسره اشنا سوی وي. ضرور نه ده چې موږ د افغانستان نوم يوازې په رسمي مکتوبونو کې ووينو او بيا داسي نتيجه واخلو چې ګويا دا نوم تر دغه وخته پوري موجود نه وو. دا خبره هم بايد په ياد ولرو چې هغه افغانستان چې سيفي هروي يې، څه باندي اته سوه کاله مخکي، په تاريخ نامه هرات کې يادوي؛ له هغه افغانستان سره چې فورسټر يې په خپله سفرنامه کې ذکروي ډېر زيات توپير لري. د سيفي هروي افغانستان يو جغرافياوي مفهوم دی چې يوازې د افغانانو د اوسېدلو سيمه يې مطلب ده. ضياءالدين برني چې، څه باندي پنځه سوه کاله مخکي، په تاريخ فيروزر شاهي کې، د افغانستان نوم يادوي هم کوم خاص حدود او ثغور نه لري؛ او يوازي يې د افغانانو د اوسېدلو سيمه يې مطلب ده. خو هغه افغانستان چې فورسټر يې يادوي هغه سياسي قلمرو دی. خپل حدود، پاچا او قانون لري او د يوه هيواد حکم ورباندي کېدلای سي. افغانستان د هيواد په معنا، د سياسي او تاريخي وجود او هستی په معنا د لوی احمدشاه بابا له وخته څخه موجود دی.

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ